مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۳/۰۹/۰۴

# لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

## دوه‌سوه‌اوه‌لسمه برخه

له امریکا نه ناامید شول
ځکه روسانو ته ورځي، کوي عذرونه

سترګي پر لار اوسه کابله
که ژوند باقي و ګونډې وشي دیدنونه

خدایه درېګوني زامن راکړې
تور سور زرغون چي باندې کېږدمه نومونه

ملته څۀ درسره وکړم
زۀ دې تعلیم ته هڅوم، تۀ ځې په غرونه

د لنډیو د دې برخې لپاره دا لنډۍ برابرې شوې دي:

پۀ کلیمه که رانه هېر یې
د زندګۍ چارې مې ګډې وډې دینه

د روغتیا تمه دې عبث ده
په نیمه شپه مې له خولې وتي ازارونه

د یاراني مزه دې نشته
لکه د بورې غوا په زور دې ودرومه

د ډېرو زړونو ازار ماخله
زوال که راغی، بیا به وکړې ارمانونه

پـردي وطـن کـې خاني نشي
هسې په هغه دغه شپې سبا کوونه

سترګي پر لار اوسه کابله
که ژوند باقي و ګونډې وشي دیدنونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

خدایه درېگوني زامن راکړې
تور سور زرغون چې باندې کېږدمه نومونه

آپخواني وختونه نه شته
چې په ښایسته پېغلو به ښکلي وو صنفونه

که چېرته کېږی بېرته راشه
تللیه لالیه ځمکه ځای نه راکوینه

چې زمرود یې پیداوار دي
زه په هغه وطن کې لوږې تېرومه

ورځه ـ ورځه زوال دې وشه
خدای خو مې نه یې چې سجدې در ته کومه

ملته څۀ درسره وکړم
زۀ دې تعلیم ته هڅوم، تۀ ځې پۀ غرونه

ته رانه لاړې، بیا رانغلې
چې را په زړه شي غلې کېنم وژاړمه

د مور ملوکې سرې دې نوکې
په قد وړوکې، زړه مې غټ درپسې چوینه

دا دی د غم سندری وایم
خلک به وایی چی میلی چړچی کوینه

د ونې پانه دې کړم خدایه
که باد راوالوت ما به کوم ګړنګ ته وړینه

پر لالې سختې ورځې راغلې
له بې وسی یې ټول پردی حسابوینه

له امریکا نه ناامید شول
ځکه روسانو ته ورځي، کوي عذرونه

زه خو ترهرڅه نه ورتېر شوم
اوس مې غمونو ته یوازې نه پرېږدینه

د تګ پر وخت یې ویل: «راځمه»
دا دی سپین سرې شوم اشنا مې نه راځینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ